مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: بشرمل پسرلی ۲۰۲۴/۰۴/۲۷

# فدرالېزم: خیالي طرحه د تجزیې له ارمان سره

په دې وروستیو کې دېرځول شوي جمهوري نظام ځیني قومي سیاستوال، چې له هېواده وتلي، په داسې حال کې د فدرالېزم طرحه وړاندې کوي، چې د واک پر مهال یې فدرالي طرحه په کلکه ردوله، لکه سرور دانش، خو اوس پرې لیکنې او شننې لیکي او د ټولنیزو رسنیو ځیني چلونکي یې زمزمه کوي. سرور دانش او له هېواده وتلي ځیني نور قومي سیاستوال لمړني فدرال غوښتونکي نه دي، بلکې ځینو قومي سیاستوالو له وړاندې د هویت پېژندنې او قومي سیاست ( Identity and Ethnic Politics ) کړی او په ترڅ کې یې د فدرالېزم غوښتنې کړي، لکه طاهر بدخشي، سلطان علي کشتمند، عبدالعلي مزاري، عبداللطیف پدرام او د ګوتو په شمېر ځیني نور قومي سیاستوال.
قومي فدرال غوښتونکي ظاهراً اټکل کوي، چې د افغانستان سیاسي واک ټل له پښتنو سره دی او پښتنو نور قومونه له سیاسي واکه محروم کړي. ددې ترڅنګ، پښتنو د نورو قومونو کلتوري هویتونه حذف کړي او لا یې د حذف په لټه کې دي. ددوی په اند، د پښتنو سیاسي او کلتوري مړموني باید د فدرالي نظام له لارې لمنځه لاړه شي.
په دې لیکنه کې لټه شوې ترڅو لا څرګنده شي چې د قومي فدرال غوښتونکو اټکلونه ( فرضې ) ناسم او د فدرال نظام طرحه یې مغرضانه او د پردیو لخوا دېکټې شوې ده. مور د فدرالېزم رد یوازې پر دې بنسټ نه دی کړی چې د افغانستان شرایط فدرالي نظام ته مساعد نه دي؛ بلکې فدرالېزم په ذات کې په ځانګړې توګه وروسته پاتې هېوادونو ته له تجزیې او بدمرغۍ پرته نور څه له ځان سره نه لري، ځکه د فدرال طرحه ټل د افغان ملت له لوري نه یوازې دا چې په کلکه رد شوې، بلکې یو ډول حساسیت او کرکه یې ور سره پیداکړې او ان قومي فدرال غوښتونکي په پردیپالنې او تجزیه غوښتنې تورنوي.
په سیاسي نظامونو هر اړخیز بحث او د افغانستان په ټولنیز جوړښت، کلتوري اړخونو، ټولنیز عدالت، د ولسونو بد مرغۍ او مظلومیت، د هېواد وروسته پاتې والی، د نظامونو نسکوربدا او ددې لیکنې داسې نورې فرعي موضوعګانې چې د سیاسي نظام له ډول سره نېغ په نېغه اړیکه لري، د کتابونو لیکلو ته اړتیا لري؛ د یوې لیکنې یا یو کتاب بحث نه دی، خو حالاتو او امکاناتو ته په کتو، اوس لپاره په دې لیکنه کې په لاندې څو سرلیکونو یو څو کرښې لیکو:

- د قومي سیاستوالو اټکلونه ( فرضې )
- د قومي سیاستوالو د فدرالي طرحې دلایل
- د فدرال نظام بنسټیزې ځانګړنې
- په نړۍ کې فدرال نظامونه
- د فدرال نظام ځانګړي حالات او وضعیتونه
- د فدرال نظام ذاتي نیمګړتیاوې
- د فدرال غوښتونکو ناسم اټکلونه ( فرضې ) او خیالي طرحه
- له فدرال نظام څخه د قومي فدرال غوښتونکو ناسمي انګېرنې او شننې
- ولې فدرال غوښتنه؟
- ولې افغانان ټل فدرالېزم نه مني؟
- پایله

مخکې له دې چې بحث ته ننوځو، دا باید ووایو چې په نړۍ کې په ټولیزه توګه دوه ډوله سیاسي نظامونه واکمن دي. بسیط ( Unitary ) سیاسي نظام او فدرال ( Federal ) سیاسي نظام، البته سیاسي نظام له ټولو هغو قانوني بنسټونو څخه عبارت دی، چې دولت یې تشکیل کړی او په دې ټولو ادارو حاکم مقررات په ګوته کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**د قومي سياستوالو اټکلونه ( فرضی )**
د ځينو هغو قومي سياستوالو اټکلونه، چې فدرال سياسي نظام غواړي، په ټوله کې په لاندې دوه برخو څرخي:
**الف- کلتوري** ( قومي، ژبنی او مذهبي ): افغانستان ملت او اکثريت قوم نه لري، بلکې کثير القومي، ژبنی او مذهبي هېواد دی. د قومونو ترمنځ تل ژبني او مذهبي درزونه او تضادونه شته دي او ورځ تر بلې له يو او بله واټن نيسي. پښتنو د نورو قومونو هويتونه له منځه وړي او خپل قومي هويت او ملي يووالی يې په جبر او د يوشان والي ( Assimilation ) مېتود څخه په ګټني، پلی کړی او د افغانستان تاريخ د قومونو په قتل عام او حذف، د هويتونو په محروميت او په جعلي هويت او اتلانو څرخي.
**ب- سياسي**: سياسي واک تل له پښتنو سره دی او نور قومونه ترې محروم دي. پښتنو د نورو قومونو حقوق نه دي تامين کړي او د پښتنو د سياسي واک له امله افغانستان په مطلوب وضعيت کې نه دی. د افغانستان جګړې قومي ( د پښتنو او غير پښتنو افغانانو ترمنځ جګړې ) ريښه لري او نظامونه د قومي سياستونو او تضادونو له امله پرځېدلي. په افغانستان کې بسيط نظام هېڅکله مثبته پايله نده ورکړې او په سياسي پروسو کې د ولس د نه ګډون لامل بسيط نظامونه دي. د دوی په اند، د فدراليزم مخالفت يوازې پښتانه کوي، ځکه چې نه غواړي په هېواد يې سياسي واک له منځه ولاړ شي.

**د قومي سياستوالو د فدرالي طرحو دلايل**
ظاهراً قومي سياستوال د فدراليزم د طرحې دلايل په لاندې ډول وړاندې کوي:
**الف- کلتوري** ( قومي، ژبنی او مذهبي ): په فدرال سياسي نظام کې د پښتنو هژمونيک هويت له منځه ځي او د وړو قومونو قومي، ژبنی او مذهبي هويت خوندي او پراختيا مومي، ځکه د فدراليزم اصلي فلسفه د مرکزي ځواک کمزورتيا او محل پالنه او د متنوع هويتونو ساتنه اوپالنه ده.
**ب- سياسي**: په فدرال سياسي نظام کې د پښتنو سياسي واک لمنځه ځي او نورو قومونو ته په سياسي ډګر کې ونډه ورکول کېږي. فدراليزم سره د افغانستان تاريخ او سياست له سره ليکل کېږي، ملي ستم، بې ثباتی او بد مرغيو ته د پای ټکی ايښودل کېږي او ټولنيز عدالت ټينګوي.

**د فدرال نظام بنسټيزې ځانګړنې**
فدرال سياسي نظام هغه سياسي نظام دی چې د مرکزي حکومت ( فدرال ) او د ايالتونو ترمنځ په افقي ډول د قدرت وېش پکې موجود وي. په بله وينا، ملي واکمني د مرکزي دولت او واحدونو تر منځ وېشل شوې وي. د فدرال سياسي نظام بنسټيزې ځانګړنې په لاندې ډول دي:
- ملي واکمني د مرکزي دولت ( فدرال ) او ايالتونو ترمنځ وېشل شوې وي.
- هر ايالت له سياسي او اداري پلوه خپلواک وي او خپله خپلواکه اجراييه، مقننه او قضايه قوه لري.
- د فدرال اساسي قانون ترڅنګ، هر ايالت خپل اساسي قانون لري او د ټولو ايالتونوله خوښې پرته مرکزي ( فدرال) اساسي قانون نافذ او تعديلېدای نه شي.
- په ټوله کې په يوه حغرافيوي وحدت ( هېواد ) کې د مرکزي دولت ترڅنګ، څو نور حکومتونه يا کوچني دولتونه موجود وي، چې د ايالت، کانتون، ټولني، خپلواکه ساحې، لانډر، جمهوريتونو او يا د جزيرو په نومونو يادېږي.
- مرکزي فدرال حکومت په نړيوالو اړيکو، دفاع او د کرنسي په چاپ او خپرېدا کې خپل رول لوبوي.
**تبصره**: نورې ځانګړنې د هر هېواد شرايطو ته په کتو په اساسي قانون کې تسجيل کېږي.

**په نړۍ کې فدرال نظامونه**
د فدرال سياسي نظام ذاتي نيمګړتياو ته په کتو، ډېرو لږو هېوادونو خپلو عيني او ذهني شرايطو ته په کتو، فدرال نظام غوره ګڼلی، چې ځينې تجزيه شوي، ځينې د تجزې په درشل کې دي او ځينې هغه ښېرته ترې لاس په سر شوي او هغو چې دا نظام ترډې دمه هضم کړی، هغه حالات لري، چې نه له تيوريکي او نه هم له عملي پلوه د افغانستان او يا نورو وروسته پاتې هېوادونو سره د پرتلې وړ دي، چې په لنډه توګه يې په لاندې ډول يادونه کوو:
**الف- فدرال هېوادونه:** د نړۍ له ۱۹۵ دولتونو چې ۱۹۳ يې د ملګرو ملتونو غړي دي، يوازې ۲۸ دولتونه فدرال نظامونه لري، لکه سوماليا، پاکستان، نايجريا، متحد عربي امارات، هندوستان، جنوبي افريقا، ارجنټاين، بلجيم، اوتريش، استراليا، بوسنيا او هرزګوين، برازيل، کاناډا، کامروس، ايتوپيا، جرمني، مالېزيا، مکسيکو، ميکرونزي (مايکرونيشيا) ، نيپال، روسيه، سينتکېټس او نويس، ونزوېلا، د امريکا متحده ايالات، عراق، سويس، هسپانيا او سويلي سوډان.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**ب: تجزیه شوي فدرال نظامونه:** پاکستان، مالیزیا، د هند غربي جزایر، مرکزي افریقا فدراسیون، یوګسلاویا، روسي اتحاد سوسیال جمهوریت، جنوبي افریقا، چک سلواکیا، شرقي افریقا فدراسیون، د کاراییب حوزه، شرقي اندیانا فدراسیون، سودان او ایتوپیا. د یادولو وړ ده چې ځیني فدرال هېوادونه یو ځل تجزیه شوي او د بیا ځلي تجزۍ شونتیا یې هم لوړه ده، لکه پاکستان.

**ج- د تجزیي په درشل کې فدرال نظامونه:** پاکستان، عراق، کانادا، جنوبي سودان او په اوږد مهال کې هند. بلوچستان، کردستان، خالستان او کیوبېک کې د خپلواکۍ وسله والې او یا غیر وسله والې مبارزې رواني دي، چې دا شونتیا یې رامنځ ته کړې، ترڅو دا جغرافیه وې برخې خپلواکي تر لاسه کړي.

**د- له فدرال نظام څخه لاس اخیستونکي هېوادونه:** په ځانګړې توګه له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته، د استعمار په مشورو ځینو هېوادونو وپتیله، چې د فدرالیزم په لور لاړ شي، د فدرال نظام نیمګړتیاو او د خپلو ټولنو شرایطو ته په کتو یې، څه وخت وروسته بېرته بسیط سیاسي نظام خپل کړ، لکه لیبیا، تانزانیا، کلمبیا، سوریه، وېست انډیز، مالاوي، یوګنډا، کامېرون، کېنیا، مالي، زمبابې، برما، کانګو او اندونېزیا.

د فدرال نظامونو ټوټه کېدل ډېر عوامل لري، چې ځیني یې عبارت دي له د ټولني نابالغه ولسواکي، د وګړو ترمنځ کمزوری ملي حس، له مرکزي فدرال څخه د ایالتي مشرانو تېښته، د ایالتونو او مرکزي فدرال ترمنځ تضاد او ټکر، قومي تضادونه او جګړې، کمزوری مرکزي فدرال حکومت، پر ملي هویت د محلي هویتونو برلاسي، د ایالتونو ترمنځ ناسمه سیالي او بهرني فشارونه ددې سبب شوي، چې فدرال نظامونه ټوټه شي، خو له ټولو اړینه دا چې فدرالیزم او تجزیه د یوې سیکې دوه مخه دي، چېرې چې فدرالیزم وي، هلته د تجزیې شونتیا ډېره ده.

نور بیا

**د فدرال نظام ځانګړي حالات او وضعیتونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ